# پښتو متلونوکښې کلتوري شناخت

# Cultural identity in Pashto proverbs

**Hamid Khan** ★

**Abstract:**

This paper attempts to investigate cultural identity in Pashto proverbs and will search out proverbs as a cultural marker of identity. This qualitative study focuses on ethnolinguistic and textual analysis approaches. This research paper will explore cultural identity among Pakhtuns in a thorough discussion of social values and norms expressed in Pashto proverbs. The research will explore the components of Pakhtun social setting and identity. Proverbs are a great source of traditional knowledge and folk wisdom; primarily created and used by common folk and language users. They are derived from the shared experiences of the folk used. Proverbs are linguistic products of societies in the shape of non-material culture handed down from generation to generation. Pashto proverbs reflect the social and cultural aspects of Pakhtunwali- a distinct social code of conduct and the unwritten social contract of their life. All the social values, norms, and many other things relevant to cultural identity are thoroughly narrated in the Pashto proverbs and the research study is vital for future scholarly research on the same subject for the coming generation in the wake of the identity crisis.

**Keywords:** Proverbs, Culture, cultural Identity, Pakhtun Culture, Social Values, and norms

متل د پښتو ژبې د فولکلور( Folklore ) هغه مېدان دے کوم چې لساني، ادبي ارزښت او اهميت نه په پورته د کلتوري شناخت مهم موضوع ګرځي. ژبه په اصل کښې د کلتور غېر مادي شکل وي او دغه قامي تشخص په ژبه کښې مخصوص ټکي ښکاره کوی کوم چې نېغ په نېغه دغه کلتوري شناخت په ګوته کوي په دغه ټکو کښې یومهم ټکے متل هم دے. متل د پښتون کلتور د شناخت مهم او ځانګړے ټکے دے چې په خپل لمن کښې ګڼ اړخيز معني

★ Associate Professor, Government Degree College Totakan, Dargai, Malakand

او خوند رنګ لري۔ په پښتو ژبهٔ کښې د متل د کلتوري ارزښت پهٔ حوالهٔ پروفیسر پریشان خټک لیکي:

هم د پښتو ژبې په ذریعه دا ثقافت ژوندے دے. هر پښتون چې په خپل ځیګر خون پښتو ژبه لیکلې ده او د هغې حفاظت ئې کړے دے. ولې چې د هغوئ باقي پاتې کیدو دارو مدار هم په دې پښتو دے. که په پښتو ژبه پاتې نه شي نو پښتون ثقافت به هم ختم شي. لکه چې د هغه پښتنو سره اوشو څوک چې د دې ځائې نه لاړل او بل ځائے آباد شول. څو پورې چې هغوئ پښتو ژبه وئیله نو هغوئ ته به پښتانه وئیلے شول. " (۱) هم په دې اړهٔ اوښاد داورخان داود لیکي:

"د پښتو په فولکلوري ادب کښې متل د خپلو لفظي او معنوي خوبو تر مخه یو داهم مقام لري۔ د دې د اهمیت دا دوه لوئې وجهې له پامه نهٔ شي غورځولے۔ اوله دا چې په دې کښې د پښتو ژبې ډیر زاړهٔ لغات، اصطلاحات، او محاورې چې اوس پکښې اکثر متروک دي، خوندي دي۔ بله دا چې د پښتو د ثقافت هغه واړهٔ اقدار و اثار چې اوس تقریباً ختم شوي دي۔ هم په دې کښې محفوظ دي۔ خو د دې نه علاؤه هم دا په هر لحاظ د پښتو ژبې او ادب په پنګه کښې د ډیرې زیاتې اضافې سبب وي۔ (۲)

"د متلونو په دې بېش بها خزانه کښې ما د پښتون وګړي د مزاج د ده د اخلاقو اطوارو. د ده د کردار، د ده د رویو او خصائیصو د ده د ژوند د تجربود ده د بشري تقاضو، قبائلي تعصباتو او او قومي عزائمو او دیني عقائدو بې شماره داسې جواهر پارې وموندې کومې چې د دورونو او زمانو د تجربو په تراش خراش ځلیدلې او پړقیدلې وې. د دې موضوعات هم بې شماره وو او د دوي د ژوند هر میدان ئې احاطه کوؤ. دا دا پښتونولۍ د نالیکلي دستور سپیېځلي او منلي دفعات وو. دا د دوي د ژوند د پوخ آئین او دستور العمل شقونه وو. دا د دوي پښتو وه. زه پوهه شوم چې پښتون ولې د آئین د دې هرې دفعې مطالعه کول زما دپاره څومره ضروري وو. دا موقع عملي ژوند ته زما د ور داخلیدو په اول سر کښې ما وموندهٔ." (۳)

د کلتور د نوي رائج تصور کوم چې د عمراني علومو نه علاؤه د کلتوري بشریاتو مهمه موضوع ده۔ په ساخت او پوهنه کښې کلتوري شناخت اهم حېثیت لري۔ کلتوري شناخت په اصل کښې د قام یا کلتور شناخت وي کوم چې د رویئو او قدرونو نه جوړ د اولسي نظام

نخښــه نخښــانه ښـائي . د کلتـوري شـناخت اصـطلاح هـم لکـه د يـو عمرانـي او بشـري اصطلاحاتو د نـوي صدۍ بـه کلتـوري بشرياتو (کلچرل انتهرافالوجي) کښې ډير ارزښتيا موندلې ده شناخت ذاتي هم کيدے شي او قامي هم سياسي هم کيدے شي او کلتوري هم. د نوي صدۍ او د انټرنېټ د عام کيدو نه روستو د عالمګيريت او رسونو ( Social Media) په سبب د شناخت شخړه ډير اهميت بيامونـدې ده . ځکه چې د عالمګيريت لـه وجې ډيرې داسې ژبې مخ د دنيا نـه ورکے او ختمې شوې کوم چې پخپله د يو کلتور غير مادي ( Abstract) شکل وو. په اصل کښې کلتوري شناخت د يو قام سره د تړون احساس تـه وائي. دا د خود شناسۍ او خود پوهۍ هغه احساس وي کوم چې په قاميت، نسلي عصبيت، سماجي طبقات او نسل نه علاوه د علاقې او کلتور دپاره احساس کولے شي. ځکه نو دا احساس د يو وګړي د انفرادي ژوند نـه واخله تـر اجتماعي او اولسي ګروه پورې وي . کلتوري شناخت مونږه ته بحېثيت وګړي او د قام تر ميانځه د تعلق تقين کوي . زمونږ د چاپېريال او ټولنې روئې مونږ پخپله رغؤو . او هم دغه روئې د کلتور برخه وي. کوم چې د کلتوري شناخت په صورت کښې زمونږ او د قام يو تر بله اړيکې ټينګوي . د پښتون دکلتوري شناخت باره کښې پروفيسر درويش درانے ليکي :

"د نړۍ د هر اُولس خلق تر خپل مېنځ داسې څۀ اصولونه سره لري چې ټولو ته د منلو وړ دي. مني ئې او په رڼا کښې ئې د خېر وشر تر مېنځ توپير کوي. لـه دغسې اصولونو څخه جوړه ضابطه په اصل کښې داسې يو قالب وي چې په يوۀ اولس ته خاص کړۀ وړۀ له نور اولسونو څخه بېله بڼه يا بېل شکل ورکوي. د نړۍ بېلا بېل اولسونه هم په ظاهري او هم په باطني توګه يو له بله بيلوالے لري. او هر يو ځينې داسې ځانګړتياوې لري چې دا نور اولسونه ئې نۀ لري. همدغه ځانګړتياوې هغه څۀ دي چې د دغه اولس پېژندګلوئي پرې کيږي. پښتانۀ هم خپلې ډيرې داسې ځانګړتياوې لري چې له نورو اولسونو سره د دوئي توپير کيدائ شي. او له دوئي څخه پښتانۀ جوړوي. (۴)

د پښتنو کلتوري شناخت مونږ په دوۀ ډوله کښې ويشلے شو. يو قسم هغه شناخت کوم چې د پښتنو د عقيدو، خوښه ناخوښه، رومان او دغه نور تصورات دي. د کوم ځرګندونـه چې پښتانۀ په خپل امروزه او عملي ژوند کښې د جمات نه واخله تر حجرې کور کلے محلت پورې کوي. دويم هغه کلتوري اوصاف کوم چې د رسمونو رواجونو وغېره سره اړه لري.

پښتني کلتوري شناخت کښې د روئيو نه واخلې تر اجتماعي ژوند د ضابطې (پښتونولۍ) پورې ټول شيان شامل دي ـ په دې حقله ستر عالم ، پوهاند او دانشور پروفيسر پرشان خټک د د کلتوري شناخت ته د ماضي د ستونزو باره کښې خپل نظر څه دا رنګ وړاندې کوي :

"د خپلې انده زۀ د ثقافت په حقله بس دومره ويلے شم چې د زمکې په يوه خاصه حصَه کښې چې کوم خلق استوګنه کوي د هغوئ تر مينځه بائد چې هر يو شے مشترک وي د هغوئ فن، ادب، تاريخ او نسل لنډه دا چې د ژوند هر يو اړخ يو شان پکار دے .دې يو والي ته که مونږه ثقافت اووايو نو په صوبه سرحد (موجوده خيبر پښتونخوا ) کښې "پښتون" د ثقافت يوه ځانته اکائي ده. چرته چې صرف دغه ثقافت وده موندے شي. د افغانستان نه علاوه په برصغير هند و پاک کښې هم پښتنو د خپلو رواياتو په بنا تهذيبونه جوړ کړي وؤ. ولې هغوئ ځکه وده نه مونده چې کومه فطري فِضا د ثقافت دپاره ضروري ده هغه هلته کښې موجوده نه وه. تش د صوبه سرحد د ژبې او ثقافت په حقله دومره وئيلے شي چې په هر لحاظ سره دا يو ځان ته خصوصي کيفيت او فطري جغرافيائي ماحول لري. کله چې پښتون د دې قسمه جغرافيائي ماحول نه اوويستلے شي نو په هغه باندې د دې رنګ اثر تر ډيره پورې قائم نشي پاتې کيدے." (۵)

ژبه او بدني خدوخال پورې ټول په ټوله د پښتون کلتور شناخت ته ځانګړتيا ورکوي، دا ټول تربيت د پښتون کلتور ادارو لکه حجره، جمات، ګودر، پټے وغيره کښې ذده کولے خوولے او نور نسل ته منتقل کولے شي. کوم چې د متلونو پۀ زريعۀ يو نسل نۀ بل نسل تۀ د ژوند د مختلفو منتقل کول کيږي ـ بل اړخ تۀ د پښتنؤ د کلتوري شناخت تۀ د ورپيخو کشالو او ستونزو پۀ حقلۀ ښاغلے داور خان داؤد په خپل تحقيقي کتاب " خوشحال خان او فولکلور" کښې د شناخت پۀ حوالۀ د ورپيښو ستونزو څه داسې ذکر کوي :

" زمونږ د تهذيب وتمدن لرغوني اثار چې د پښتنو پيژنګلوي ترې کړي په ورو ورو لګيا دے ختميږي ـ که دا مونږ محفوظ او خوندي نه کړل نو ډير زر به مونږ د خپل قومي ، ملي ، نسلي او لساني شناخت نه لاس واخلو ـ او دا شان به په خپل ځان په خاوره واړه وو ـ (۶)

په اصل کښې کلتوري شناخت د يو قام سره د تړون احساس ته وائي ـ دا د خود شناسۍ او خود پوهۍ هغه احساس وي کوم چې په قاميت، نسلي عصبيت، سماجي طبقات او نسل نه

علاؤه د علاقې او کلتور دپاره احساس کولے شي . ځکه نو دا احساس د يو وګړي د انفرادي ژوند نه واخله تر اجتماعي او اولسي ګروه پورې وي . کلتوري شناخت مونږه ته بحېثيت وګړي او د قام تر ميانځه د تعلق تعين کوي . زمونږ د چاپېريال او ټولنې روئې مونږ پخپله رغؤو . او هم دغه روئې د کلتور برخه وي . کوم چې د کلتوري شناخت په صورت کښې زمونږ او د قام يو تر بله اړيکې ټينګوي . د کلتوري شناختي اجزاؤ او تراکيبي عناصرو په حوالۀ مولانا عبدالقادر ليکي : د کلچر او ثقافت دې لوئے تاريخي مجموعې کښې دا اجزاء شامل دي. مذهب د اولسي ژوند نظام، تمدن، تهذيب، دود دستور، رسم و رواج، روايات، ژبه، رسل او رسائل هر قسم ادارې، اولسي تنظيمونه، خپلوۍ، واده کوژدنه، د مړي ژوندي سره متعلق دستورونه، قيصې، روايتونه، دم درود، جادو، اقتصادي ادارې او تنظيمونه، اخلاقيات، علوم و فنون، ادب (موسيقي، ثقافتي وغيره) لوبې، غرض دا چې د اولسي ژوند متعلق عمل چې د تاريخي دود د ابتداء نه پس په ديخوا راروان دے. د کلچر يا ثقافت په دائره کښې شميرلے شي. چې په هغې کښې ژبه د ټولو نه اهمه آله ده" (۷)

هم دغۀ کلتوري شناخت د پښتو متلونو پۀ حوالۀ د بيلګې پۀ توګه د يو څو ترکيبي عناصرو سره د متلونو وړاندې کولې شي .

پښتو : پښتو يواځې ژبۀ نۀ بلکه د ژوند د تيرولو يوه ضابطه ده .په دے حوالۀ داور خان داود ليکي :

"پښتو ته په پښتنه معاشره کښې ډير زيات اهميت ورکولے شي. دا نه يواځې د دوئ ژبه ده بلکې د دوئ يوه مکمله ضابطه اخلاق هم ده. چې ورته پښتونولي وئيلے شي" (۸)

هم پۀ دے حوالۀ ډاکټر بي بي مريم د پښتو د دروند ليکوال صديق الله رښتين نظر څۀ دا رنګۀ رانقل کوي :

پښتو کلمه چې د پښتنو ټول کلتور او تهذيب پروت دے. پښتو او پښتونواله د دوئ د ژوندانه يو غوره أولسي قانون دے. دوې په شريکه پېوسته مرکه کښې وسيږي. ټول په يوه پښتو ژبه غږيږي او د يو دين اسلام تابع دي. هوښيار، زيرک او په آزادۍ مئين دي" (۹)

» پښتو پنځم مذهب دے.

» پښتو نه خبر نه دي د ډمانو کونې اوشليدې.

» پښتو د خره ځيل دے.
» پښتو دښمن خوري هندو سجن خوري.
» هندکو پښتو نه پيژني.
» پښتو نيمه کافري ده.
» چې چا پښتو وکړه ښځې به ئې وګي ټولوي.

پښتون او پښتونولي : د پښتنو د ژوند کړۀ او وړۀ د مطالعې دپاره ضروري ده چې د پښتون انفرادي ژوند نه تر اجتماعي ژوند ټول اړخونه د نظر لاندې وساتلے شي. که چرې مونږ په دغه اړخ سوچ وکړو نو د يوې پښتنې معاشرې په تنه بوده کښې د وګړي ذاتي خويونو نه واخلې تر اجتماعي رويو پورې ګڼ شخصي او اجتماعي خاصيتونه ځنې داسې دي چې پښتنو ته ئې انفراديت بخښلے دے. کوم څيړنکار چې د پښتني ژوند په مطالعه ځان پوهول غواړي نو بايد چې د پښتو او پښتونولۍ په تجزيه ځان پوهه کړي ځکه چې پښتونولي په اصل کښې د پښتني ژوند د کړه وړه او خدوخال پوهولواصل منبع ده. ـ د پښتو پښتونولۍ او د پښتون د کردار او ذاتي شناخت پۀ حوالۀ ډاکټر دانش بيټيني په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې ليکي :

"پښتو يوه ژبه هم ده. او د ژوند تيرولو نوم هم دے. د پښتو ژبې نه پښتون وګړے پيدا شوے دے. او بيا دغه پيدا کيده په خپل ماحول او د دې ژبې په لارو چارو سره متعلق ژوند تيرول د پښتون لپاره لازمي څيز دے. ځکه چې د دغه کردارونو او خوئې نه بغير د پښتون ژوند تيرول ګران کار ښکاري. بلکې پښتون بغير له دې پښتون پاتې کيږي هم نه. دا اخلاق او کارونه په خپل ځان پوره پوره منل وي. او د پښتو د شان سره ئې تر سره کول وي. څوک چې دا کارونه په دغه طريقه کوي هغه پښتون بللے شي. او څوک چې ئې نه کوي نو هغه د پښتون وئيلو جوګه نه ګڼل کيږي. (۱۰)

» پښتون وائي چې ايمان دې لاړ شي خو پښتو دې نه ځي.
» پښتون د خره پتون.
» پښتون وائي چې هېر شو، هندو وائي چې ډير شو.
» پښتانه تش کور ساتي.
» پښتانه وران کنډر ساتي.

» پښتون په پښتو مري او په حيا مري.
» پښتون چې پښتو نه لري، او عزيز تربور ته کوز ګوري نو زمکه دې پرې ډکه شي.
» پښتون د پښتنې دے.
» پښتانه په لنډې لارې مړه دي.
» پښتانه په ډيران ارت بائيلي.
» پښتون چې بې غيرته شي نو شيخ شي.
» پښتون د خدائے د وره ستون.
» پښتون د خدائے د لارې ستون.
» پښتون زوي او ورور لنډه هيله کوله د کمره پرېوتل.
» پښتون کور کښې زيږيږي او په سنګر کښې مړ کيږي.
» پښتون وړوکے بار نه وړي.
» د پښتون دښمني د اوښ پتنه ده.
» د پښتنو غوښې خپلې نه دي.
» پښتون هر څه کاندي خو هنر نه کاندي.
» غم د پښتون جامه ده.

په معاشرتي رسمونو کښې بدل يا پور، ننواتې، چغه، د سيمې مجرم د علاقې نه شړل، او ملک بدر کول، تيره، ناغه، داړه، بدرګه، پيغور، اشر، خپلوي او خيښي، جامه پيزار، ميلمستيا دي. پښتني رواجونه د پښتونولۍ د لوئې ضابطې د اډانې دننه خپل خور وور شکل څرګندوي. ځنې د پښتنو رسمونه په پښتو متل کښې

» بيل قام بيل ئې دستور.
» لړه لړه جمع کړه خواره واده اوکړه.
» چې ډير کوي جنګونه، هغه دوه کوي ودونه.
» پيغله په شپه کوه، کونډه په کاته کوه. طلاق چرې مه کوه.
» د جرګې فيصله د کاڼي کرښه وي.
» د کونډې کونتون اسان دے، چې د پلار کور ئې ودان دے.
» ستر خو د کورد برګو هم پکار دے.

» ورور د خور پړونے دے.
» پښتون سل کاله پس بدل واخست وائي ذرې واخست.
» اتڼ په يوه شپه نه کيږي.
» اور نه شه پيغور شه
» بدل په بدل روا دے.
» بې وخته ميلمه ئې له خپله بخته خوري.
» پټکے چې له سر نه پرېوځي که اوږه پريوت هم ښه دے.
» پرتوګ چې په غوايه شي، هم به ئې اخلې.
» پور ورکړے غليم وژلے.
» په پټ کښې تور مصلي ښه دے.
» په خپله ډوډۍ مور په کلي نازولے.
» چې پښتو لټه شي نو ګټه شي.
» چې پور خوري سر به هم خوري.
» خپلوي له لرې ښه ده، نه ده نږدې.
» خيښي په خوشۍ سودا په رضا.

کور:

» د بل کور چا خوار نه دے ليدلے.
» د بل کور نيستي نه لري.
» کور ودان د ورور ودان.
» کور چې سره کور شي د کلي مخي شي.
» کور دې لرې کوځه دې نږدې.
» کور دې د ماما دے. لاس منډه ګوره راوباسه

شرم:

» نه شرم نه حيا لعنت په بې حيا.
» شرم په سترګو کښې دے.
» شرم د بدې چارې ښه دے.

» شرم د هغو وساتي چې په شرم پوهيږي.
» شرم ئې کوؤ، بيخ ئې اوخوت.
» شرم څه ګډوړے نه دے چې نعرې چا پسې اوهي.
» شرم د ايمان پوش دے.

غيرت:

» په ځني وخت بې غيرتي هم ښه توره ده.
» د بې غيرته سړي نه غيرتي ښځه ښه ده.
» خوار خدائے کړې، بې غيرته چا کړې؟
» د بې غيرته قلعه ميلمه واکدار وي.
» د سپي بې غيرتي دغه چې ميلمه ځيروي.
» د بې غيرته زوي نه غيرتي لور ښه ده.
» پښتون له غيرته ځان اور ته اچوي.

پېغور:

» اور نه شو پېغور نه شو.
» ځوان ووم خو نو ځان ووم چې زوړ شوم د جونو پيغور شوم.
» خواره شې ادې ئې خپل پيغور ماته راکوي.
» د بل ډوډۍ يا پور دے يا پيغور دے.
» د بنو قدر نيشته د بنو پيغور.
» د دنيا پيغور د آخرت د اُوره کم نه دے.
» د سيال خواړه يا پور دے يا پيغور دے.
» لنډ کالونه اوږده پيغورونه.
» پردے خوراک يا پور دے يا پيغور دے.

بدل:

» بدل په بدل خلاصيږي.
» د نر وينه بې بدله نه پاتې کيږي
» ستا خبر په ګل بدله.

» د میني بدل نیشته.
» د نر که ونه په بدل ده.
» پښتون چې سل کاله پس هم بدل واخست وئیل دي واخست.
» دنیا د بدل ځائے دے.
» د پښتون بدل تر پیړو پورې وي.
» پښتون نه دے چې د نوک جواب په سوک ور نه کړي.
جرګه:
» د پښتون جوړه په جرګه وي مرګ ئې هسې په پلمه وي.
» د جرګو شړلے نه ئې چې په کلي راتلے نه شې.
» جرګه د سپي هم مه واپس کوه.
» مه ځه په هغې لار چې نه مور پرې ځي نه پلار
» له کلي ووځه له نرخه مه ووځه.
مُلا:
» اشنائي د مُلا تر سبقه پورې.
» په مُلا ئې جنازه ده. بخښونکے خداې دے.
» زمونږ کلے مُلا نه نیسي.
» د خوار مُلا دوه ګوتې ږیره وي.
» چې مُلا وائي هغه کوه، چې مُلا کوي هغه مه کوه.
» یه مُلا حلوه ده. زما پرې بسم الله ده. یه ملا ښامار دے، دا د ځوانانو کار دے.
» د خوار مُلا په بانګ ځوک روژه هم نه نیسي.
پرده:
» ده خپل نه څه پرده.
» د پښتنو جوړه په پرده وي، مرګ ئې هسې په پلمه وي.
» مرګ د مړي پرده دے.
» سل مړي پردې کوي، یو مړے نخرې کوي.
پناه ورکول:

» چې د خدائې ويره نه وي څه د غره پناه څه د وره پناه.
» څه د وره پناه، څه د غره پناه.
» که لاس پناه کړې غر پناه.
حجره:
» په پردۍ حجره سل ميلمانه څه دي.
» حجره جومات حساب نه دي او بل ځائې به ئې نه وايم.
» ورور ئې په حجره او ګوره د خور ئې تپوس کوه.
» ته حجره او جومات نه پيژنې؟
» چيلمه! نه دې ونه نه دې ګونه. هسې د حجرې د مجلس رنګ ئې.
» حجره جارو کووم، شپه پکښې تيروم.
بدي:
» د بهر بدي ورکه شي د کور بدي نه ورکيږي.
» د بدې خبرې سل کاله عمر وي.
» بدي په سلام نه ځي.
» بد تربور په بد ځائې پکاريږي.
د پښتنو خانداني نظام د شريکې کوړمې او يو ځائې اوسيدو باندې مبني وي چې پکښې د مشر کشر، لوئې واړه تميز او خيال ساتلې شي. د کور په رنګ په کلي کښې هم غم ښادي په شريکه سره کولې شي. د پښتنو کور اکثر مشترکه خاندان باندې مشتمل وي چې پکښې نيکه، نيا، نوسي، تره، تندار (چاچي) او دغه رنګ د کور ټول بنديان يو ځائې اوسيږي. اوس د نوي دور سره دغه رجحان کښې بدلون راځي. او د مشترکه خاندان په نسبت انفرادي کوړمې ته خلک رو رو تن ږدي. دغه کورني نظام په حقله يو څو متلونه څه دا رنګ نقشه پيش کوي
مور:
مور نه ميره کيږي
مور چې دُرخانۍ وي لور به ئې ښاپيرۍ وي.
مور که بد وائي ښه به ګوري.

د مور زړه به زوي، د زوي زړه په وچ کاڼي.
مور د لور غوجل ده.
پلار
د پلار اشنا د زوي کاکا
چې مور میره شي پلار پلندر شي.
پلار ئې ګټي زوے ئې خټي.
ښځه:
د ښځې چې د میړه سره راستي وي د کور ژوند ئې په دُرستي وي
ښځه چې حجاب نه لري بې مالګې طعام دے.
چې ښځه شي بې شرمه میړه پریباسي د برمه.
ښځه چې ښځه وي تروې شوملې خوږې کړي.
زوے: بد زوے نه زوے.
چې د چا زوے وي د هغه کور وي.
اینګور:
اینګور او اُور، اینګور او منګور
د اینګور خاوره د سخر د کور وي.
خور:
خور لور د ساتنې ځیز نه دے
خور لور ئې تخت درکړم که بخت
لور: لور له موره زوے د پلاره معلومیږي
لورې تا ته ئې وایم اینګورې ته ئې واوره
لور د مور ګوتې ګوري، زوے د پلار پتے ګورے.
ورور: په ښه کښې ورو په بد کښې پیغور
مال پیدا کیږي خو د ابۍ بچي نه پیدا کیږي.
ایندرور: چې ایندرور لري نو یو برغولے اور لري.
بن: یو سوے اور نه کوي، دوه بنې کور نه کوي.

د دنیا په هر کلتور او ټولنه کښې د مذهبي عقیدو او ټولنیز نظام د قانوني پیچیدګو سره سره کلتوري خامۍ او خوبۍ د ځنې داسې رقم وهمونو او هنرونو سره یو ځائې پېوستون لري کوم چې د قامي نفسیاتو، مزاج، پوهې او اولسي ادراکاتو دپاره ډېر اهمیت لري. کله چې هم د کلتوري او تهذیبي ژوند مطالعه کولے شي نو وهمونه هم د نظر لاندې ساتلے شي.

د وهمونو د هیت او اهمیت باره کښې ښاغلے اروانښاد داور خان داود لیکي:

" په غیر فطري خبرو، څیزونو یا واقعاتو یقین او باور کولو ته توهم پرستي وئیلې شي. توهماتو سره وهم، ویرې خوف او خطرې احساس تړلے شوے وي. په حقیقت کښې انسان د خپلط کم علمۍ او سائنسي او طبعي اصولو نه د ناواقعیت په وجه مختلفو توهماتو کښې اخته وو. ده ته چې به چا څه وئیل ده به هغه کول او منل. دغسې انسان لا تر اوسه د وهم و خیال او خوف و خطر ملګرے دے. خلقو به په کوډو، ټوټکو، چادو، تعویذونو، دیو، پیریانو او ښاپیرو عامه عقیده لرله." (۱۱)

د پښتنو وهمونو او ټوټکو په حقله د ډیر زیات تحقیق ضرورت په دے محسوس کولے شي چې په تحریري توګه دغه وهمونه ډیر کم په ریکارډ راغلي دي. په جدید نړۍ کښې اوس هم ډیر ترقي یافته Advanced ملکونو کښې هم دغه رنګه ډیر وهمونه وجود لري. چونکې پښتانه خالص مسلمانان او راسخ العقیده خلک دے نو د دین د تعلیماتو او تعلیم د سیوا کیدو په وجه دغه وهمونو خپل وجود او شناخت رو رو ختم کړو. ولې اهمیت ئې د هغه چا دپاره ورځ تر ورځه نور هم سیوا کیږي څوک چې د کلتور پوهنې Cultural Studies باندې کار کوي.

دپښتو د وهمونو په حقله یو څو متلونه د نمونې به طور پیش کولے شي.

» چرګه چې کاسیره شي نو ګاونډي کره اګۍ اچوي.

» چرګه چې اګۍ اچوي نو دنیا خبروي.

» خوب د مرګ ورور دے.

» چې خوب کوې خوب به وینې.

» خوب نه بې څه وي نه پر څه وي.

بلا:

» عادته بلا په بسم الله نه اوړي.

» بلا وي برکت ئې نه وو.
» بلا وه که بلاګۍ، ابا ئې مړ کړو په چوړکۍ.
» بلا ئې د بلاؤ غالبې وې.
» بلا نه له زمکې نه له آسمانه، له خپله ځانه.
» بلا بلا له ما نه لرې.
» بلا نه په اودیني ښه وي او نه په وینه.
» بلا په لنګوال معلومیږي.
» بلا له هغه پاڅي چې ئې ګړنګ له پوزې څاڅي.
پیشو:
» پیشو نیوے شي خو میاؤ څوک نه شي نیوے.
» پیشو هم د شي میرمن شوه.
» پیشو د خدائے رضا له منږک نه نیسي.
دم:
» دم هغه دے خو خُله د پنجو نه ده.
» چې د چا خپله مینه نه وي دم جادو اثر نه کوي.
» دم د چرمښکی نه لري او نیسي ښاماران.
قبر:
د خدائے نظر یا په زهیر او زوړ دے یا په نړیدلو قبرونو
ښاغلے داور خان داود د کار کسب او پښتنې تولنې کښې د کسب ګرو په حقله لیکي:
"پښتانه پخوا راسې په کار کسب او محنت، مشقت مئین دي. کار کسب نه کول او خوشي تشي ناسته ورته بې غیرتي ښکاري. هم دغه وجه ده چې د دوي د ژوند دا منفرد صفت تر ننه د دوي خوداري غیرت او پښتو ساتلې ده، که د دوي په معاشره کښې چا د کار روزګار او محنت نه لاس اخستے دے نو هغه ئې بې کچه غندلے او کړلے دے او ډیر په سپک نظر ئې ورته کتلي دي. او دغسې ئې دوي ته د کار کولو

ترغیب ورکړے دے او نصیحت ئې ورته کړے دے. د دوي د ژوند بازګشت د دوي په متلونو کښې هم موجود دے"(۱۲)

د خداي خدمتګار تحریک مشر لاربنود باچا خان هم په پشتنو کښې د کارکسب د خوښتیا د پاره ډیرې هلې ځلې کړې وې ـ ددغه تحریک د سر غړے دروند لیکوال ښاغلے عبدلاکبر خان اکبر په خپل کتاب د" برصغیر پاک و هند په آزادۍ کښې د پښتنو برخه" کښې په مخ ۱۸ کښې لیکي :

" درزي توب : د دې د پاره مونږ یو هلک ساتلے وو چې هغه به هلکانو ته د ګنډلو کار ښودو. د هغه نوم عارف الله وو." د کار کسب په حقله د پښتو یو څو متلونه

هُنر:

» هُنر زده کړه د کندو په سر ئې کیږده.

» هُنر چا د مور په خیټې نه دے زده کړے.

کار:

» چې په کار شرمیږي هغه کله پوره کیږي.

» چې بې کاره وي که سردار دے څه پکار دے.

د محنت عظمت:

» په غرمو ئې وګټه په سوري ئې وخوره.

» په اوړي ئې ګټه، په ژمي ئې خټه.

» تیار خور حرام خور.

اول اوخوره د ځان غوښې بیا اوخوره د ښکار غوښې.

کسب ګر:

» هر سړے پوزه توره کړي وائي زه اینګر یم.

» د زرګر سل ټکه د لوهار یو ټک.

» د چمیار خپلې څپلۍ شلیدلي وي.

» چمیار له هغه څوک ځي چې پښې ئې سوځي.

» ترکاڼ ځان ته ترښځ وهي.

» چې د کولال د کوره اوځي ویخ دې ترې اوځي.

» د کولال زور په ژرندګړي رسي.
» د کولال په کور کښې روغ لوښي نه وي.
» د شاخیلانو نه نندارہ نه سیوا کیږي.
» د شاخیلانو چاړه ئې په حلاله مردارہ کښې یو شان چلیږي.
» ښه جالاوان د طوفان په ورځ معلومیږي.
» خدایه کِس مې د حکم مه کړې او رنځ مې د طبیب مه کړې.
» چې ګوجر ته دې قهر کیږي نو سخے کټے ئې وهه.
» ګوجر مه وهه خو کټے ئې وهه.
» د ګوجر سړي د توري سره څه؟
» د جولا او د ګوارچي یارانه ګرانه ده.
» د دیوي غوایه دے په رنګ ئې مه تیرووځه
» د ډم سترګې تل د بل په نغري وي.
» د ډم د ذات نه ئې هر چا ته خاندې.
» د سُرناچي پرې څه ځي تش پوکے.
» د لو ګري نه لو نه کیدو نو لور ئې په لوټه تیره کوؤ.
» په خُله مې مُلا کړې ځان ته مې بلا کړې.
» په ګڼو قصابانو کښې څاروے مرداریږي.
» بیزه د مرګه پټیده، د قصاب کره ئې شپه شوه

موسمونهٔ :

» د خزان پاڼه ئې بې باده ریژیږي.
» په هړ کښې د کټونو هم تبه کیږي.
» اسو وه دې سو.
» دولس میاشتې کال دے ګنده ئې پشکال دے.
» چیتر چې ورنده شي په خمبو کښې نه ځائیږي، پګڼ چې ورنده شي پټو کښې نه ځائیږي.
» هاړ دننه، پشکال په ونه، بادرو په غنه.

» څه مو هغه سپړلې چې نه مو پکښې غوا څري نه څښي.
» پو مبه کره په چيټ چې سړے شي پکښې سيټ.

شمير:

» يو ئې ګټي سل ئې ختي.
» سل دې ومره يو دې مه مره.
» دوه هندواني په يو لاس کښې سره نه شي نيوے.
» څلور لوښي چې يو بل سره پراته وي نو هم کله کله يو تر بله لګي.
» پنځه ګوتې سره په يوه ځُله نه منډلے کيږي.
» د شپږو مياشتو تبخے دې کيږده، د کال ميلمه ئې کښينه ورته.
» اس دې وي په لس دې وي.
» نولس ده چا شل کړې نه ده.
» سل په لالي پورې، دا يوه پرې د بنګړو.

کرنسي او ناپ تول:

» کاڼي ډير دي خو خبره په سېر خلاصيږي.
»دا ګز او دا ميدان.
» په درياب کښې کاڼي ډير وي خو يو نيم پکښې سېر وي.
» يوه رتۍ وينه سل ګزه ټوپ وهي.
» که روپۍ وړه ده خو په جوک پوره ده.
» چې د يوې پيسې غل وي د زرو خو به خود غل وي.
» ئې چټاکۍ او ځان په سير حسابوي.
» چې او ښ په پيسه شي خو چې پيسه نه ئې نو څه ئې کړې.
» د ګوړو تله ده په مالګو ئې مه شلوه.
» د تشو شوملو نه کُچ نه اُوځي.
» چې په ډکه کاسه موړ نه شي په څټلو ئې نه مړيږي.
» منګوټے که د غوزانو ډک شي نو بيا هم سير شړشم پکښې راځي.
» اوړه په لپو غوړي په ګوتو.

» دنیا نولس ده او شل نه شوه.

پښتانه په خپلو خبرو اترو، بحث مباحثو او جرګو مرکو کښې د متل نه ډیر کار اخلي. ځکه چې دا د یو قام د احساساتو تجربو تهذیب و تمدن، دود دستور، روایاتو او کلتور آئینه دار دے۔ متل په هره ژبه او ادب کښې وجود لري خو بعضې کلتورونه متل د عقل او پوهې زده کړې ، او نورو ته د ښوئنې په ځائے کاروي ۔ د پښتو په اولسي ادب کښې کلتوري شناخت ځائے په ځائے په مختلفو ځائیونو او صنفونو کښې موندې شي ۔ چې په کښې پښتو متل ته خاص مقام حاصل دے ۔ پښتانه متلونو ته ډیر اهمیت ورکوي هر متل ورته د کاڼي کرښه ښکاري او هغه یو پوخ او غټ دلیل بولي. پښتو متلونه د پښتنو د اجتماعي ژوندون پوره نمائندګي کوي۔ پښتو متل ادبي او لساني رنګونو سره سره ثقافتي یا کلتوري اړخ هم لري۔ کوم کښې چې د پښتنو د ټولنیز نظام یعنی پښتو، پښتونولۍ، نیغ په نیغه عکاسي کیږي ۔متل د پښتنو په معاشره کښې او بیا په کلي والو علاقو کښې ډیر زیات استعمالیږي. زیات متلونه قیصۍ او ټپې په حجرو کښې وئیلې شوې او خلق په غورسره اوری۔ د پښتو متل په خپل لمن کښې ډیر اړخیز مواد رانغښتي دي کوم چې د لساني او ادبي رنګونو نه واخله تر عمراني ژوند او ټولنیز نظام پورې خور دے. په پښتو متل کښې د پښتنو د اخلاقیاتو نه واخله تر تهذیبي آثارو لویه ذخیره خوندي ده ۔ او دا د کلتوري شناخت لویۀ زریعۀ ده ۔

## حوالې

1 . پریشان خټک، پروفیسر،" پښتو ژبه ، ادب او ثقافت" په سرحدی صوبه کښې ورمبي لساني او ثقافتي کانفرنس" پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټی ، ۱۹۸۶ء مخ ۳۶

2 ..داود ، داور خان ، " پښتو ادب کښې متل " یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، ۱۹۹۰ء مخ ۹

3 .طائر ، محمد نواز ،پروفیسر،" ادب تراش " پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټی ، ۲۰۰۶ء مخ ۱۳۵

4 . درانے ، درویش، "د پښتني ژوند کړه وړه "کاسی روډ الامان اڅکزے پلازا کوټه ، ۲۰۱۴ء مخ ۱۵۲

5 .پریشان خټک، پروفیسر،" په سرحدی صوبه کښې ورمبي لساني او ثقافتي کانفرنس" پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټی ، ۱۹۸۶ء مخ-۳۳ ۳۲

6 . داود ، داورخان ، "خوشحال او فولکلور" ، پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټی ، ۲۰۰۶ء مخ ۳۷

7.عبدالقادر ، مولانا " د فکریون " پښتو اکیډمي ، پېښور ونیورسټي س ن مخ ۳۹

8. داود ، داور خان ، "خوشحال او فولکلور" ،پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۶ مخ ۱۷

9. بي بي مریم ، ډاکټر " د حمزه شنواری شاعری او پښتني ثقافت "دري میاشتنۍ پښتو مُجله ، پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورسټي، ۲۰۰۵ مخ ۱۷-۲۲

10.بیټنے ، دانش، نور محمد ، ډاکټر، "د پښتو ټپې عمراني مطالعه"، پښتو اکیډمي، پېښور ۲۰۱۷ء مخ ۴۶۸

11. داود ، داور خان، پروفیسر، "خوشحال او فولکلور" پښتو اکیډمي، پېښور، ۲۰۰۶ء، مخ ۱۴۰.

12.داود ، داورخان، پروفیسر، " پښتو ادب کښې متل" اوځل پېښور، جنوري ۱۹۹۰ء مخ ۱۰۲